# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدين بوم و بر زنده يک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهيم از آن به که کشور به دشمن دهيم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سياسی |
| --- | --- |

ژباړه: فرهاد وياړ

۱۹ جنوری ۲۰۱۳

# هيڅکله مه وايه...

هاينريش ګليک د ۱۹۲۰ کال د اپريل په ۲۴ مه د لهستان په ويلنا ښار کې وزيږيد او په زلميتوب کې يې د هغو يهودي ژبو شاعرانو په کتار کې ځای پيدا کړ چې د «يونګه والد» خپروني کې کار کاوه. د نازيانو د نيواک په دوران کې، لومړی د «وايسه واکه» د اجباري کار په پنډغالي کې زنداني و او بيا د اجباري کار په نورو پنډغالو کې د بند موده تيروله. په همدې وخت کې د «يوه شپه د اجباري کار په پنډغالي کې» شعري ټولګه وپنځوله.

په ۱۹۴۳ کال کې د المان پوځ، د پنډغالي ټول يهودي زندانيان د ويلنا ګټو ته وليږدول. هاينرش ګليک، د ورشو د ګټو د پاڅون تر اغيزې، په همدې ګټو کې د «هيڅکله مه وايه» ترانه د روسي آهنګ جوړونکی ديميتری پوکارس د ملوډي پر بنسټ وليکله چې د پارتيزانانو د متحد سازمان پارتيزاني ډلو هغه د «پارتيزانانو سرود» اعلان کړ چې د يهوديانو د مقاومت د غورځنګ په مشهورې ترانې بدله شوه.

د دې ګټو له ويجاړيدنې وروسته، هاينرش ګليک د ګشتاپو لخوا ونيول شو او د استلاند د اجباري کار پنډِغالي ته واستول شو. په ۱۹۴۴ کال کې له هغه ځايه له تيښتې وروسته، د ځلوبښتو نورو زندانيانو سره، په ځنګل کې د پارتيزانانو د ليکو سره يوځای شو او څه موده وروسته، په ۲۳ کلنی کې، وسله په لاس پر ځمکه ولويد.

نور هيڅکله مه وايه چې وروستی ګام دې اخلی،
کله چې توپان، ان شين آسمان هم له ځان سره جارو کوي،
زموږ رويايي شيبه رارسيږي،
نوره رانژدې شوی،
ګامونه مو لکه ډهل فرياد وهي:
موږ دلته يو!
د خرما له شينو کروندو تر ليرې واټونو
په واروې پوښل شوي ټاټوبي څخه
موږ د خپلو رنځونو سره راځو،
موږ له خپلو دردونو سره راځو،

او هر چيري چي مو د وينو ځاځکی وڅځيږي،
هلته تازه ځواک رازرغونيږي،
هلته تازه قهر رازرغونيږي.

د سباوون لمر چي راوځليږي،
نوي ورځ به راروسيږي، غوره ورځ به راورسيږي
توره شپه له دښمن سره يوځای تري تم کيږي،
او که لمر لا په مشرق کي زږه نا زږه دی
زموږ ترانه د هغه د رارسيدو ضمانت دی.

موږ دا ترانه په وينو ليکلی؛ نه په قلم،
دا ترانه، د يوي ښادي او آزادي مرغی ترانه نه ده
دا ترانه هغه ولس وايي
چي د اور او لوګي تر منځ وسله په لاس لري.

نور نو هيڅکله مه وايه چي وروستي ګام دی اخلی،
کله چي توپان، ان شين آسمان هم له ځان سره جارو کوي،
زموږ رويايی شيبه رارسيږي،
نوره را نژدی شوی
ګامونه مو لکه ډول فرياد وهي:
موږ دلته يوو!